# د پاملرنې د لومړیتوب لومړني مرکزونه

**OFFICIAL**

**Pashto | پښتو**

- آیا تاسواړتیا لرئ چې سمدستي ډاکټر وګورئ؟
- د پاملرنې د لومړیتوب لومړني مرکزونه (PPCCs) د هر چا لپاره وړیا درملنه چمتو کوي چې بیړني ټپونه یا ناروغي ولري.
- د PPCC ډاکټران به له تاسو سره مرسته وکړي چې ستاسو درملنه د روغتون د بیړنۍ څانګې په پرتله ژر وکړي.
- دوی کولای شي د داسې ناروغیو درملنه وکړي لکه په میکروبونود ککړتیا معتدل حالت، لړسوځیدنه، د بدن د کوم ځای اوښتل (رګبدل) یا شکمن مات شوي هډوکي.
- که تاسوسخت ټپ یا ناروغي لرئ، د درې صفرشمېرې (000) ته زنګ ووهئ.
- که تاسوبیړنۍ پاملرنې ته اړتیا نلرئ، له خپل کورني ډاکټر سره لیدنه وکړئ.
- د PPCC په خدمتونو کې رنځپوهنه، رادیولوژي او درملتون شامل دي.
- د PPCC خدمتونه د هرچا لپاره، له میډیکیرکارت سره یا پرته وړیا دي
- د پاملرنې د لومړیتوب لومړني مرکزونه په اونۍ کې اوه ورځې د اوږدو ساعتونو لپاره پرانیستي دي.
- تاسې د کتنې وخت نیولو ته اړتیا نلری.
- په ټوله ویکټوریا کې PPCCs د پرانیستل کیدو په درشل کې دي.
- د ځایونو او نورو معلوماتو لپاره د غوره روغتیا له چینل څخه لیدنه وکړئ:www.betterhealth.vic.gov.au/health/servicesandsupport/priority-primary-care-centres
- ترجمانان په PPCCs کې شته. د ژباړې او ترجمې خدمت TIS National ته په 450 131 شمېره زنګ ووهئ.